AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړونکی. رڼا ګل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۸/۰۹

# وړوکی ګيدړ

## د ماشومانو له پاره لنده کیسه

یو وخت یو وړوکی کیدړ په یوه ځنګل کې اوسیده اود ځنګل نورو اوسیدونکو به دا کوچنی ګیدړ«وړوکی» باله. دوی د دې ګیدړ له پاره ځکه دا نوم خوښ کړچې په رښتیا ډیروړوکی و. د ده دښوونځي نورو زده کوونکو به تل په هغه پورې خند ل او ډیر به یې ځوراوه، ځکه چې نه یې د نورو په شان تیزې منډې وهلی شوې او نه یې لوړ ټا پونه وهلی شول. که څه هم ډ یرې هڅې او تمر ینونه یې کول، خوسره له دې یې هم په دې لنډ و لنګیواو ورنو نه تیزې منډې وهلی او نه یې لوړ ټو پونه اچولی شول. د دې له پاره چې « وړوکی » دنورود مسخرو او ځورونونه یو څه ځان وساتې، نو ډ یر وخت به یوازې په ځنګل کې ګرځیده او کتنې او پلټنې به یې کولې. یوه ورځ، کله چې وړوکی هسې په ځنګل کې په چکر لګیاو، ژویو یوه لویه ګله یې ولیده چې په یو څه را ټول شوې وو. وړوکی نه پو هیده چې دا ژوې دڅه دپاره هلته راټول شوې دي، نوغلی او په ارامې د ګلې په لور ور وخوځیده او « لوی کونګ مور» یې تر نظر تیره شوه او ورته نارې وهې چې:« وړوکیه دلته راشه! زما ډ بل بچی په ونه کې د ځالې نه په دې تنګ اوژور سور ي کې را ولوید. اوس هلته بند پا تې دی ، ترې را وتلی نه شي، د ځنګل نورټول ژوې دومره لوی دي چې په سورې ور ننوتلی نه شي، ترڅو زما زوی را وباسي. وړوکیې له دې چې غاښ څپلې بهانه کړې، سم دلاسه په هغه سورې ورننوت چې دکونګې ډ بلګنکی زوی په کې بند پا تې و. کله چې د کونګې زوی ته ور ورسیده، په ډیر احتیات یې له بڼکو په خپله خوله کې ونیو او له هغه سره له سورې په شا راوخوځیده او ترې را ووت. کله چې دی دکونګې زوی سره له سورې را ووت، دځنګل ټولو را ټول شوو ژویو یې په چک چکو هرکلی وکړ آو په دې ډیر خوښ شول چې د کونګې زوی وساتل او ازادشو. کونګې دوړوکي ګیدړ نه د زړه له کومې مننه وکړه اوبلنه یې ورکړه چې د دې د زوی سره یو ځای لوبې وکړي. له دې ورځې راپه دې خوا بیا دځنګل هیڅ ژوې کوچنی ګیډل ونه ځورا وه، ځکه ده په خپل همت وپوهول چې کوچنې ژوې هم لویې چارې تر سره کولی شي.

د الماني سرچینو نه:

verfasst und gestaltet von Franziska Bich



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ